مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه‌شنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۱۵مه | د ۲۰۲۱ د جولای شپږمه | ۷۴۵مه ګڼه

# د امریکا تر وتلو وروسته د ګاونډیو هېوادونو رول؛

## کرزی: ګاونډي هېوادونه دې د افغان سولې په برخه کې خپلې همکارۍ ډېرې کړي



۳

### په دوحه کې بیا پیل شوو خبرو ته څومره تمه کېدای شي؟

۲ مخ

### هزینه جنگ افغانستان برای امریکا چقدر بوده؟

۲ مخ

### پرېږده چې خړ سیلاب یې یوسي

۳ مخ

## امریکایي پوځیان: په افغانستان کې مو شل کلنه جګړه بې ځایه او بې لاسته راوړنې وه

ګارډین ورځپاڼې له افغانستان څخه د امریکایي پوځیانو وتلو ته په اشارې ویلي، چې امریکا په دغه هېواد کې په ملیاردونو ډالر په یوې بې مانا او بې پایه جګړې ولګول، خو تر شل کلنو لګښتونو او هڅو وروسته اوس هېڅ لاسته راوړنه نه لري.

ورځپاڼې زیاته کړې، ډېری هغه نظامیان چې په افغانستان کې یې ماموریت تر سره کړی، وایي چې افغانستان ته د امریکایي پوځیانو د تګ لومړۍ موخه د اسامه بن لادن پیدا کول او له منځه وړل وو، چې هغه موخه تر لاسه شوه، خو د دوی په وینا، په دغه هېواد کې د امریکا ماموریت په ابدي جګړه بدل شوی و. هغوی له افغانستان څخه د امریکایي سرتېرو پر وتلو خوښي څرګنده کړې او زیاته کړې یې ده چې په دغه هېواد کې پر ماموریت بوختو سرتېرو ته یې کورنۍ په تمه دي او هیله لري چې هغوی ژر روغ رمټ خپلو کورونو ته راستانه شي.


د یادونې ده چې له افغانستان څخه د ټولو امریکایي او نورو نړیوالو پوځیانو د وتلو لړۍ پای ته په رسېدو ده او دغه هېواد څو ورځې وړاندې په افغانستان کې خپله تر ټولو ستره پوځي اډه افغان ځواکونو ته وسپارله.

## وکیلان: د ولسوالیو پرله‌پسې سقوط د جدي اندېښنې او پوښتنې وړ دی



۲ مخ

خپره
۴ مخ



## رسول باوري

رسول باوري د افغانستان د تاریخي ابداتو د پېژندنې یو معلوم ادرس و او هغه د دغو اثارو د پېژندنې او بیارغونې لپاره نه ستړي کېدونکي خدمتونه کړي دي.

## کرنې وزارت: په ننګرهار کې پر ۵۲۶ جریبه ځمکه عادي او متراکم بڼونه جوړ شوي



کرنې وزارت وايي چې په تېرو دریو کلونو کې یې د کرنې د ودې او کلیوالي پراختیا پروژې له لارې د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې ۵۲۶ جریبه عادي او متراکم بڼونه جوړ کړي، چې اوسمهال حاصلات ورکوي او بڼوال ترې ګټه پورته کوي.

د دغه وزارت د چارواکو په وینا، په یادو بڼونو کې د املوک، ناک، مالتې، شفتالو، انار او لیمو نیالګي کېنول شوي، چې ډېری یې اوسمهال په حاصل راغلي دي. د سرچینې په خبره، دا بڼونه په مسلکي ډول جوړ شوي او له هغو بڼونو سره، چې په دودیزه بڼه دي، ډېر توپیرونه لري.

د دغو بڼونو له ډلې د یوه بڼ بزګر عبدالوهاب چې کرنې وزارت ورته په ۲۰۱۸ز کال کې په دوه جریبه ځمکه کې ۱۳۲ د املوکو نیالګي کېنولي وو او اوس په حاصلاتو راغلي دي. نوموړی وايي، تر دې مخکې به یې پر خپله ځمکه کې تاریاک کرل، چې لګښت یې ډېر او کارونه یې سخت وو.

## لوی درستیز: برای پس‌گیری بخش‌های از دست رفته اقدام می شود



در پی شدت‌گیری نبردها میان نیروهای دولتی و طالبان و همین‌طور دست بدست شدن ولسوالی‌ها، لوی دستیز قوای مسلح تعهد می‌سپارد که پس از بسیج نیروهای دفاعی، برای پس‌گیری بخش‌های از دست رفته اقدام خواهد شد.

ولی محمد احمدزی، لوی درستیز افغانستان در گفت‌وگوی با رسانه ها، می‌پذیرد که کمبودی‌هایی در میان نیروهای امنیتی و دفاعی وجود دارند که باعث از دست رفتن ولسوالی‌ها شده‌اند.

او در این باره بیان داشت: «دشمن در مجموع پلان چند مرحله‌یی داشت؛ نخست می‌خواستند سرحدات را تصرف کنند و راه اکمالاتی شان را باز کنند. و دوم، حمله‌های شان را از ولسوالی‌ها بر شهرها تنظیم کنند که دشمن تاحدی این طرح را عملی کرد.»

احمدزی می‌گوید که طالبان در تلاش راه‌اندازی یک جنگ اقتصادی با نیروهای امنیتی است: «به‌هیچ چیز احترام نداشتند. دشمنی که می‌خواهد با ما در یک جنگ اقتصادی داخل شود. بندرهایی که برای مردم گندم می‌آید، می‌خواهند که این بندرها را بند کنند؛ اما هیچ وقت این کار را کرده نمی‌توانند.»

همزمان با این، سمیع سادات، فرمانده قول‌اردوی میوند می‌گوید که در نبردهای اخیر، طالبان پاکستانی در کنار طالبان در ولسوالی‌ها جنگیده‌اند. به‌گفتهٔ او روزانه تا ۱۲۰طالب در حمله‌های نیروهای امنیتی کشته می‌شوند: «اگر هزار طالب بیاید، هزار تن کشته می‌شود، اگر دو هزار بیایند، دوهزار خواهند مرد.»

کتاب‌مو
د ژوند ملګری کړئ
Aksos
اکسوس کتاپلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

# په دوحه کې بیا پیل شوو خبرو ته څومره تمه کېدای شي؟

د افغان حکومت او د سولې مذاکراتي ټیم د تماس گروپونو له تېرو دوو ورځو راهیسې په دوحه کې خبرې پیل کړې دي. دواړه لوري دا خبرې تاییدوي، خو وایي چې د گډې پرېکړې له مخې په دې تړاو رسنیو ته څه نه وایي. ویل کېږي چې د بندیانو خلاصون، اوربند، انتقالي حکومت او د راتلونکي نظام ډول او اساسي قانون هغه موضوعات دي چې خبرې پرې کېږي. په دوحه کې د دواړو اړخونو تر منځ د سولې خبرې په داسې وخت کې بیا پیل شوې چې په کور دننه پراخه جگړه روانه ده، طالبانو تر سلو زیاتې ولسوالۍ لاندې کړې، حکومت هم د طالبانو پر ضد پر خلکو وسلې ویشي، ملیشې جوړوي او حکومتي چارواکي د طالبانو پر ضد تونده او سخته ژبه کاروي.

پر دواړو اړخونو له دې امله فشار و چې باید د سولې خبرې ژر پیل کړي او روانه جگړه ودروي. دا فشار یوازې د افغاني اړخونو نه و، بلکې په نړیواله کچه هم دواړه اړخونه تر فشار لاندې وو چې ژر خبرو ته وگرځي او خبرې پیل کړي. له بله اړخه د جگړې له روان ډول څخه ځینو بهرنیانو هم وېره لرله او دا چاره یې خپلو گټو ته گواښ گڼله، نو ځکه یې پرله‌پسې د خبرو د پیل غوښتنه کوله او پر دواړو اړخونو یې فشار راوړ. له همدې امله د دواړو ټیمونو د تماس ډلو خبرې پیل کړې او داسې تمه کېږي چې ښایي ژر د دواړو ټیمونو تر منځ جدي او مهمې خبرې هم پیل شي.

دا ځل خبرې په داسې وخت کې پیلېږي چې نړدې ټول بهرني ځواکونه وتلي دي او پاتې هم په لنډو ورځو کې وځي. دا چاره له یوه اړخه له طالبانو د جگړې پلمه اخلي او له بله اړخه حکومت اړ باسي چې انعطاف وښیي، ځکه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته طالبان پیاوړي او حکومت کمزوری شوی دی. طالبانو تر سلو ډېرې ولسوالۍ لاندې کړې او د لا زیات پرمختگ شونتیا یې هم شته. له همدې امله دواړه اړخونه په یوه متفاوت حالت کې دي. له بله اړخه دا ځل فشار یوازې د امریکا هم نه دی، بلکې د نورو هېوادونو فشار هم شته چې د سولې خبرې پیل شي او یوې پایلې ته ورسېږي. اوس به نه د حکومت هغه سرې کرښې او شرطونه پاتې وي او نه به هم د طالبانو د جگړې هغه جواز چې د اشغالگرو پر ضد یې د جگړې لپاره درلود. خو له دې سره سره اندېښنې هم شته او لا هم ځینې داسې مسایل شته چې ښکېل اړخونه به د سولې پر ځای جگړې ته ترجیح ورکړي. طالبان وروستیو پرمختگونو نه یوازې مغروره کړي، بلکې فکر کوي چې ټول افغانستان په زور نیولی شي او حکومت به ژر له پښو وغورځوي. حکومتي چارواکي بیا د بهرنیانو په ځانگړې ډول امریکا په دې ژمنو ډاډه دي چې طالبان به ښارونه نه لاندې کوي. حکومتي چارواکي فکر کوي چې واکمني یې لا هم دوام کولی شي، نو ځکه به پوره انعطاف ونه ښیي.

د افغانستان د خلکو هیله ده چې دواړه اړخونه حالات درک کړي، واقعیتونه ومني، د خلکو غږ واوري او نور په واقعي مانا د سولې خبرې وکړي، جگړه ځنگ ته کړي، له دې فرصته استفاده وکړي او د سولې خبرې بریالۍ کړي.

# هزینه جنگ افغانستان برای امریکا چقدر بوده؟

بی‌بی‌سی-فارسی

در حالی که آخرین نیروهای آمریکایی و ناتو پایگاه هوایی بگرام در شمال کابل را ترک کرده اند، تخلیه نهایی افغانستان از نیروهای خارجی قریب الوقوع به نظر می‌رسد.

جو بایدن، رئیس جمهوری آمریکا گفته است می‌خواهد خروج سربازان آمریکایی از افغانستان تا ۱۱ سپتامبر سال جاری میلادی تکمیل شود.

آمریکا چه نیروهایی به افغانستان فرستاد؟

آمریکا برای بیرون کردن طالبان که می‌گفتند به اسامه بن لادن و سایر چهره‌های شبکه القاعده که با حملات ۱۱ سپتامبر مرتبط بودند پناه داده اند و در اکتوبر سال ۲۰۰۱ افغانستان را اشغال کرد.

در حالی که واشنگتن میلیاردها دالر را به جنگ با شورشیان طالبان و نیز تامین هزینه بازسازی این کشور اختصاص داده بود، شمار نیروهای آمریکایی در افغانستان افزایش می یافت.

ولی تا دسامبر سال گذشته تعداد این نیروها به چهار هزار نفر کاهش یافته بود و در سال جاری میلادی شمار این نیروها همچنان در حال کاهش بوده است.

البته ممکن است همیشه در داده‌های رسمی، نیروهای عملیات ویژه و سایر واحدهای موقت منظور نشده باشند.

طبق گزارش خبرگزاری آسوشیتید پرس، انتظار می‌رود پس از تکمیل تخلیه اصلی افغانستان حدود ۶۵۰ سرباز آمریکایی برای تامین امنیت سفارتخانه و دیپلمات‌ها در افغانستان باقی بمانند.

**نیروهای آمریکایی در افغانستان**

همچنین شمار قابل توجهی از کارمندان شرکت‌های خصوصی امنیتی قراردادی، که برای آمریکا کار می‌کنند در افغانستان خواهند ماند.

بناً به تحقیقات کنگره آمریکا تا چهار ماه آخر سال ۲۰۲۰ تعداد این دسته از شهروندان آمریکایی به بیش از هفت هزار و ۸۰۰ نفر می‌رسید.

در حالی که نظامیان آمریکایی از عملیات تهاجمی دور شده و توجه خود را بیشتر بر آموزش نیروهای افغان متمرکز می‌کردند، هزینه ها هم به مقدار زیادی کاهش یافت.

طبق آمار دولت آمریکا، در فاصله سال های ۲۰۱۰ تا ۲۰۱۲، که آمریکا بیش از ۱۰۰ هزار سرباز در افغانستان داشت، هزینه‌های جنگ افزایش یافت و به حدود ۱۰۰ میلیارد دالر در سال رسیده بود.

در سال جاری میلادی یک مقام ارشد وزارت دفاع آمریکا در کنگره این کشور اعلام کرد که در سال ۲۰۱۸ هزینه سالانه نزدیک به ۴۵ میلیارد دالر بوده است.

به گفته وزارت دفاع آمریکا، جمع هزینه نظامی آمریکا در افغانستان (از اکتوبر ۲۰۰۱ تا سپتامبر ۲۰۱۹) بالغ بر ۷۷۸ میلیارد دالر شده است.

علاوه بر این، وزارت خارجه آمریکا به اتفاق آژانس آمریکا برای توسعه بین المللی و سایر آژانس‌های دولتی ۴۴ میلیارد دالر صرف پروژه‌های بازسازی کرده است.

با این حساب، بر اساس داده‌های رسمی در فاصله سال‌های ۲۰۰۱ تا ۲۰۱۹ جمع هزینه‌ها ۸۲۲ میلیارد دلار بوده، ولی پولی که آمریکا در پاکستان به عنوان پایگاهی برای عملیات مرتبط با افغانستان مصرف کرده، در این محاسبه منظور نشده.

بناً بر مطالعات دانشگاه آمریکایی Brown در سال ۲۰۰۹، که به هزینه‌های جنگی آمریکا هم در افغانستان و هم پاکستان پرداخته، آمریکا بیش از ۹۷۸ میلیارد دالر خرج کرده است. (در این محاسبه بودجه ای که به سال مالی ۲۰۲۰ نیز اختصاص داشته در نظر گرفته شده)

در این بررسی یادآور شده از آنجا که روش‌های حسابرسی ادارات مختلف دولتی متفاوت است و علاوه بر این در طی زمان تغییر می‌کند، تخمین کل هزینه‌ها مشکل است.

**پول‌ها به چه مصرفی رسیده؟**

بخش اعظم پولی که در افغانستان خرج شده، صرف عملیات ضد شورش و نیز رفع احتیاجات سربازان آمریکایی مانند غذا، لباس، مراقبت های پزشکی، پرداخت حقوق و مزایای ویژه شده است.

ولی داده‌های رسمی نشان می دهد که از سال ۲۰۰۲ آمریکا همچنین حدود ۱۴۳ میلیارد و ۲۷ میلیون دالر صرف عملیات بازسازی در افغانستان کرده.

بیش از نیمی از این مبلغ (۸۸ میلیارد و ۳۲ میلیون دالر) هزینه تقویت نیروهای امنیتی افغانستان از جمله ارتش ملی افغانستان و نیروی پولیس بوده است.

نزدیک به ۳۶ میلیارد دالر به حکومت و توسعه اختصاص یافته ولی مبالغ کمتری هم صرف فعالیت ها برای مبارزه با مواد مخدر و کمک‌های بشردوستانه شده است.

در طول سال ها بخشی از این پول به دلیل خلافکاری و سوء استفاده به هدر رفته است.

در اکتوبر سال ۲۰۲۰ در گزارشی به کنگره آمریکا، نهادی که مسئول نظارت بر تلاش های بازسازی در افغانستان است، تخمین زده بود که بین ماه مه سال ۲۰۰۹ و ۳۱ دسامبر سال ۲۰۱۹ حدود ۱۹ میلیارد دالر به این ترتیب از بین رفته است.

شمار تلفات ناشی از جنگ

از سال ۲۰۰۱ که جنگ علیه طالبان شروع شد، بیش از ۲۳۰۰ سرباز آمریکایی در حین عملیات جنگی کشته و نزدیک به ۲۰ هزار و ۶۶۰ سرباز آمریکایی نیز مجروح شدند.

اشرف غنی، رئیس جمهور افغانستان در سال ۲۰۱۹ اعلام کرد که از پنج سال قبل که به مقام ریاست جمهوری رسید بیش از ۴۵ هزار نفر از نیروهای امنیتی افغانستان کشته شده اند.

**کشته شدگان در افغانستان**

بنا بر تحقیقات دانشگاه Brown در سال ۲۰۱۹، از تاریخ شروع جنگ در اکتوبر سال ۲۰۰۱، شمار تلفات نظامیان و پولیس در افغانستان از ۶۴ هزار و ۱۰۰ نفر بیشتر بوده است.

به گفته UNAMA از سال ۲۰۰۹ که به طور منظم ثبت تلفات غیرنظامیان جنگ افغانستان را شروع کرده حدود ۱۱۱ هزار غیرنظامی کشته یا مجروح شده‌اند.

# وکیلان: د ولسوالیو پرله‌پسې سقوط د جدي اندېښنې او پوښتنې وړ دی



د ولسي جرگې غړي په دې وروستیو کې په بېلابېلو ولایتونو کې د ولسوالیو پرله‌پسې سقوط اندېښمن کړي او دا چاره د پوښتنې وړ گڼي.

دوی د ولسي جرگې د تېرې ورځې په عمومي غونډه کې د افغانستان او امریکا ترمنځ امنیتي تړون ته په اشارې وویل، چې په اوسني وضعیت کې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل غیر مسوولانه دي.

د دې جرگې غړی امرالله مرادي وایي: «که ولایتونه او ولسوالۍ سقوط کېږي او د دې سقوط په ترڅ کې طالبان مهمات او زرهي ټانکونه ترلاسه کوي، دا سبا ورځ د حکومت لپاره بل گواښ دی.»

بلخوا په ولسي جرگه کې د هلمند ولایت استازی محمد کریم اتل د ولسوالیو د سقوط ترځنگ د امریکا غیر مسوولانه وتل د پوښتنې وړ بولي.

اتل زیاتوي: «امریکا د افغانستان له اوسني حکومت سره په دربېمه ورځ امنیتي تړون لاسلیک کړی، په دې تړون کې ډېر مسایل وو، لکه امریکا د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ملاتړ کوي او خپل تړون ته به ژمن پاتې کېږي.»

په ورته وخت کې د جرگې بله غړې فاطمه کوهستاني بیا د ولسوالیو سقوط د حکومت له لوري د نامتوازنه وېش پایله بولي. نوموړې وایي: «دا چې نن ولسوالۍ سقوط کېږي، د دې دلیل د حکومت له لوري له ځینو ولسوالیو سره د مهماتو د وېش په برخه کې نامتوازنه وېش دی، دغه مهمات د اړتیا له مخې نه‌وېشل کېږي.»

که څه هم امریکا او افغان حکومت د امنیتي تړون د برخلیک په اړه تازه څه نه دي ویلي، خو له دې وړاندې امریکا ویلي وو چې له افغانستانه له وتلو وروسته به هم د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ملاتړ ته دوام ورکوي او په افغانستان کې به خپل ډیپلوماتیک حضور ساتي.په ورته مهال ملي دفاع وزارت که څه هم وروستیو اندېښنو ته ښکاره ځواب نه‌وایي، خو زیاتوي چې حالت به ډېر ژر بدل شي. د دغه وزارت د ویاند مرستیال فواد امان وایي: «زموږ امنیتي او دفاعي ځواکونه پرته له وقفې هڅه کوي ترڅو له ترهگرۍ سره مبارزه وکړي او افغانانو ته ارامه ژوند برابر کړي، دغه حالت چې اوس راغلی، دا به داسې پاتې نه‌شي، د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو او د خلکو په ملاتړ به دا حالت بېرته ښه‌والي خواته لاړ شي.»

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په افغانستان په ځانگړي ډول شمالي ولایتونو کې جگړو زور اخیستی او د طالبانو لاس ته د یو شمېر ولسوالیو د پرېوتو راپورونه ورکړل شوي دي.په بدخشان ولایت کې سیمه‌ییزو سرچینو ویلي چې طالبانو د دغه ولایت ۲۵ ولسوالۍ نیولي او یوازې دوې ولسوالۍ د حکومت په ولکه کې دي. دغو سرچینو د نوم نه‌ښودلو په شرط ویلي، د سقوط شویو ولسوالیو ډېری یې پرته له جگړې د طالبانو لاسته لوېدلې دي.

# پرېږده چې خړ سیلاب یې یوسي

عبدالوحید وحید

راځئ ومنو چې امریکا یوه زبرځواک هېواد دی. پر نړۍ باندې لا اوس هم حکومت کوي. په نړیوالو مسایلو کې تقریباً اخري پرېکړه همدغه هېواد کوي. په نړیوالو کړکېچونو او پېښو کې غوښن رول لري.
مونږ ولیدل چې د دغه هېواد په دښمنۍ، دوستۍ، ژمنو، تعهداتو، توافقاتو او خبرو کې نه کوم معیارونه لري او نه هم نورمونه. نه په دوستۍ کې وربانديې اعتماد کېږي او نه هم په مشارکت باور لري. نه پر ژمنو باندې د وفا کولو په کیسه کې دی او نه هم په دوستۍ او دښمنۍ کې سرې کرښې لري. نه انساني ارزښتونو ته ژمن هېواد دی او نه هم ټولنیز کلتور پېژني. یوازې ډالر دي چې د هغوی واک او ځواک یې خوندي کړی دی. لګښتونه کوي، ریسک اخلي، خو د ګټې کچه یې هم خورا لوړه ده.
شل کاله د مخه یې پر افغانستان باندې د داسې خیالي استدلال پر بنسټ یرغل وکړ، چې کره شواهد یې نه درلودل. د طالبانو نظام یې ونړاوه او په نظامي برخه کې هغه ملي شتمني چې مو درلوده، نیست او نابوده کړه. د ترهګرۍ په نوم جګړه کې یې په کابل او ولایتونو کې له وژنو، شخصي محبسونو، د بندیانو د تعذیب، توهین او تحقیر داسې بېلګې د تاریخ په پاڼو کې ثبت کړې چې انسان یې په کیسو کولو شرمېږي؛ خو هغوی یې په کولو هیڅ بلا نه وهل. په سپیو باندې د انسانانو داړل، د بدن د غړیو پرېکول، د ګوانتنامو ډکول، د افغانانو په کورونو د شپې چاپې اچول، د خپلې کورنۍ د غړو پر وړاندې د ځوانانو وژل هغه وحشتونه دي چې کره شواهد یې په نړیوالو رسنیو کې ثبت شوي دي.
امریکا بیا هم پردی هېواد و، دلته راغی او وتل یې هم حتمي وو. راځئ لږ د مقاومت له بریځو وپوښتو چې د چا د وژلو لپاره مو له چا سره ملګرتیا وکړه؟ په کوم قیمت مو ورسره ملګرتیا وکړه؟ او د کومو افغاني معیارونو د ماتولو له امله مو له امریکا سره د خپل توان پر بنسټ مخالفت څرګند کړ؟ د پیل نکته کوم ځای و او د پای کرښه څنګه شوه؟ څه مو وګټل او څه مو وبایلل؟ ایا له دومره سترو بدلونونو مو څه زده کړل او که لا نور هم د استدراج خواته ولاړې؟ خو نه، دا هم د حل لاره نه ده. مونږ که ستونزه ختمولای نشو نو زیاتول یې د عقل غوښتنه نه ده.
شک نشته چې طالبانو نیمګړتیاوې درلودې، ستونزې یې درلودې، له نړۍ سره خو څه چې له خپلو خلکو سره هم په تعامل نه پوهېدل. له مدرسو او مسجدونو څخه کورنۍ خوسا جګړې ته د غبرګون ښودلو په فطري شکل راپورته شول، تر کابل پورې راورسیدل او حکومت کول یې یوازې د امنیت تامین وباله. فکر یې کاوه چې هغوی خپل ولس ته سوله راوړه، پاټکونه، اخلاقي فساد، چور چپاول، قتل او قتال مخه یې ونیوه. نور به نو نړۍ له هغوی څخه څه غواړي او همدغه ډول نور نړیوال قوانین او مقررات وربانديې څوک په کوم الزامیت باندې مني؟ که په اوسني حال مونږ طالبان په تېرو کړنو رانیسو، بیا هم حللاره نه ده.
راځئ چې د پردیو له پړه ګنلو وړاندې لږ خپل ګریوان کې هم وګورو. دغه جګړه د چا له چا سره او د څه لپاره وه؟ له امریکا سره د رباني او ټلوالې مشترکات څه وو؟ معامله یې په کومو معیارونو او قرباني یې ورته تر کومې کچې ورکړه؟ د رباني د هغه مهال ټول ائتلافي ملګري ولې په دومره ارزانه بیه د خپل ورور دښمن د وژلو لپاره له امریکا سره سودا وکړه؟ له طالبانو سره د اسلامیت او افغانیت د یوې جغرافیایي ټوټې تابعیت، یو ملت او نور بې شمیره مشترکات یې پرېښودل، یوازې د (د دښمن، دښمن دوست وي) تر فورمول لاندې یې له امریکا سره سودا وکړه.
طالبانو هم په خپل وار سره له ملت څخه د قربانۍ ګډوري جوړ کړي دی. کله یې له شر او فساد سره د مجادلې په نوم د قربانۍ ډګر ته را وباسي. کله یې د یرغل او اشغال پر وړاندې د مبارزې په ډګر کې قرباني کوي. اوس نو سوژه تازه شوه او د ملت قرباني دوام لري. له امریکا سره یې د سولې هوکړې ته جواز وموند، خو له افغانانو سره لاهم د جګړې د ختمولو لپاره د جواز درک او څرک نه لګېږي. ملت د طالب او حکومت د جګړو تر منځ ایسار دی. ولسوالیو ته نږدې میشت خلک د کورونو پرېښودلو ته مجبور شوي دي. لارې په ماینونو فرش شوې دي او ولس وړی دی. ایا څه فکر کوی چې اوس به ستونزه حل شي؟ نه قطعاً نه.
اوس به د ولسمشر غني په بېځایه سرټمبه‌توب باندې لږ رڼا واچوم. هغه دا چې په دوبۍ کې یې له طالبانو سره په ټاکنو کې د مزاحمت نه کولو په شرط له امریکا سره د امنیتي ترون د نه لاسلیک کولو ژمنه وکړه، خو د لوړې د مراسمو په سبا یې همدغه تړون لاسلیک کړ. د امریکا په هر وحشت او بربریت یې چوله چوپه سترګې ړندې او غوږونه کاڼه کړل. غني د خپل واک د اوږدوالي لپاره دغه وحشتونه توجیه کول.
ارګ د امریکا هره ناروا ومنله، هیڅ داسې بېلګه نه لرو چې ارګ د امریکا د غوښتنو پر وړاندې دریدلی وي. البته د بین الافغاني مذاکراتو په ترخ کې د واک پرېښودلو غوښتنه یې د عواقبو له سنجولو او د سولې لپاره د سختې اړتیا سره سره سکوټه رد کړه. د نومورې لخوا د انعطاف نه ښودلو له امله خبره د امریکا د ژمنو د ماتولو او د بهرنیو ځواکونو د تېښتې تر پولو راورسېده. ارګ مېشتو امریکا ته ډېر عذرونه وړاندې کړل، خو داسې ښکاري چې امریکا ورته سکوټ ځواب ورکړی دی. امنیتي تړونونه مات شول او حمایت قاطع هم ختم شو. اصلاً امریکا د خپلو تعهداتو تعبیر او تعریف په خپله کوي.
له لمر څخه ښکاره خبره ده چې مونږ د یوې فاجعې لور ته روان یو. له دواړو خواوو سره په هیڅ ډول معیارونو برابره د سولې طرحه نشته. داسې ښکاري چې دواړه خواوې له واک پرته بل غوراوی نه مني.
په دې وروستیو کې یوه بله تازه اصطلاح کارول پیل شوې. دغه اصطلاح د «بسیج مردمي» په نوم د ملېشو جوړول او په همدغه نوم پیسې تر لاسه کول پیل شول. غني خو مو د پلان سړی و، د ناکامو دولتونو د رغولو شخصیت و، په غور کې ښځې هم له طالبانو سره د جګړې کولو مانور ته را ایستل شوې دي. که دا هرڅه د فساد پروژې نه وي، نو د نړۍ په تر ټولو موډرنو وسلو سمبال ناټو او درې نیم‌لکه کورنیو امنیتي ځواکونو باندې مو روانه جګړه مهار نه کړای شوه، اوس یې په ملېشو او ښځو باندې د قابو کولو نسخه مسخره ده.
که په ملېشو هیواد ژغورل کېږي، نو دغه سپېڅلې دندې ته د غټانو زامن ولې نه راځي؟ ایا د هغوی دنده یوازې په مونږ حکومت کول دي؟
د افغانستان خلک ټول پوهېږي چې ارګ ته د تللو او په ارګ کې د پاتې کیدلو غریزه دلته د ستونزو محور ګرځېدلی دی، خو باني پلمې او سوژې توپیر کوي. د وخت له بدلون سره شعارونو کې هم بدلون راځي. د شعار غوراوی د ډلې په ځانګړتیاوو پورې تړاو لري. هره ډله هغه سوژه کاروي چې په چوکاټ کې فیټ راځي. ولسمشر غني ته خپلو سلاکارانو وویل چې ښځې او ځوانان د هیواد اتیا سلنه نفوس جوړوي. د ښځو او ځوانانو د حقونو چیغه پورته کول ګټور شعار دی. نوموړي سملاسي پروموټ، د ځوانانو عالي شورا، د ښځو عالي شورا او په لوړو دندو باندې د داسې ښځو او هلکانو ګمارل پیل کړل، چې له افغاني دود او کلتور سره نا اشنا وو، خو دغه ټول د نوموړي د سلاکارانو پروژوې تاکتیکونه وو. لوړ لګښتونه یې درلودل او ګټه خو یې تاسو هم په خپلو سترګو وینی.
داسې ښکاري چې د پلان له مخې یوازې ولسوالۍ د سقوط برخه دي. د ولایتونو سقوط به د بل پلان برخه وي. د کابل هوایي ډګر به د چارواکو د خوندي تېښتې لپاره وساتل شي، خو متاسفانه دغه هېواد به د توپان او څپانده سمندر په منځ کې پرېښودل شي او ملت به سولې ته د چارواکو د قربانۍ نه ورکولو له امله د مرګ په خوله کې ژوند لټوي.

# د امریکا تر وتلو وروسته د ګاونډیو هېوادونو رول؛

## کرزی: ګاونډي هېوادونه دې د افغان سولې په برخه کې خپلې همکارۍ ډېرې کړي



ګاونډي هېوادونه دې افغانستان ته د سولې د راتګ په برخه کې همکارۍ ډېرې کړي. پخواني ولسمشر حامد کرزي په یوې تازه مرکې کې ویلي، چې د افغانستان ګاونډي هېوادونه په تېره چین د افغانستان د سولې په پروسه کې مهم رول لوبولی شي.
د ده په وینا، چین پر پاکستان پراخ نفوذ لري او د دې اړتیا ده چې دغه هېواد په افغان سوله کې رښتینې همکارۍ ته وهڅوي. حامد کرزی د بهرنیو ځواکونو وتلو ته په ښه سترګه ګوري او په وینا یې، اوس افغانان په خپلو کې سره جوړېدلی شي او کولی شي د خپل هېواد چارې په خپله کنټرول کړي. د ده په خبره، که افغانان سره یو لاس شي، په خپلو کې سره کېني، جګړې ختمې کړي، نو د افغانستان لپاره ښه راتلونکې د وړاندوینې وړ ده.
کرزي زیاته کړې: «زه د یوه افغان په توګه د افغانستان لپاره د تېر په پرتله د یوې ښې راتلونکې هیله لرم، ځکه اوس مونږ افغانان په خپلو کې یو او پر دې باوري یو چې سولې نه یوازې زمونږ، بلکې زمونږ د ګاونډیو هېوادونو او سیمې په ګټه هم ده، که لاسونه سره ورکړو، ډېر ژر به سولې ته سره ورسېږو».
په ورته مهال د چین د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي هم ټینګار کړی، چې امریکا باید د افغانستان د مسئلې په حل کې رښتینې اوسي او د سیمې له هېوادونو سره دې په ګډه د افغان سولې پروسه یوې پایلې ته ورسوي.
د نوموړي په خبره، په افغانستان کې باید تر ټولو لومړی سوله او ثبات وساتل شي او اجازه دې نه ورکول کېږي چې د دغه هېواد وضعیت نور هم د ګډوډۍ او ناارامۍ پر لور لاړ شي. د وانګ یي په وینا، امریکا د افغانستان د جګړې د پیلوونکې په توګه باید په پوره احتیاط او ارامۍ سره باید خپل مسوولیتونه د افغانستان حکومت ته ولېږدوي.
د افغان سولې او جګړې په تړاو دا خبرې داسې مهال مطرح کېږي، چې په دې وروستیو کې امریکا په افغانستان کې خپله تر ټولو لویه نظامي اډه (بګرام) وتړله او ټاکل شوې چې تر یوې میاشتې به ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي.
له دې سره جوخت روسیې هم د په افغانستان کې روان حالت او د امریکایي ځواکونو وتلو ته غبرګون ښودلی دی. د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړې استازي ضمیر کابلوف ویلي، امریکا له افغانستانه تر وتلو وروسته خپل نظامي تجهیزات منځنۍ اسیا ته نه شي لېږدولی. نوموړي زیاته کړې، امریکا له افغانستانه تر وتلو وروسته په دې لټه کې ده چې په سیمه کې ځان ته اډې پیدا کړي او په دې سره د افغانستان وضعیت له نږدې وڅاري، خو د هغه په خبره، په دې تړاو یې امریکایي لوري ته د خپل مخالفت ویلي او دوی به ورته د دغه کار اجازه ور نه کړي. کابلوف له افغان حکومت او طالبانو هم غوښتي چې ژر تر ژره دې روان تاوتریخوالی پای ته ورسوي او د یوه ګډ او ټولشموله حکومت د رامنځته کولو لپاره دې خپلمنځې خبرې پیل کړي. د هغه په وینا: «د قدرت د جوړښت په اړه وروستۍ پرېکړه باید په خپله د افغانانو له لوري وشي».

## د کتــاب خبـرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکتور فرېنکل**
ژبـاړن: **میراحمدیـاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

د خندا او شوخۍ د دې عجیب حس ترڅنګ یو بل حس هم راپکې پیدا شو او دا د سودا (وسوسې) و. ما د عجیبو حالاتو په مقابل کې دغه د سودا احساس یو ځل پخوا هم کړی دی. یو وخت غره ته ختم، پښه مې وښوېیده، یوازې همدا سودا راسره وه چې پر ځمکه به ژوندی پرېوځم او که هډونه به مې ماتېږي.

دغه سره سودا راپسې شویتز ته هم راغله. دې سودا زموږ ذهن له ګردچاپېر عیني چاپېریاله جلا کاوه. په دې وخت کې همدغه ذهني حالت زموږ یو ډول ساتونکی و. ټولو پر دې پوهېدل غوښتل چې نور به څه کېږي او بلاخره به کومې پایلې ته رسېږو. مثلاً د منې په وروستیو شپېو کې به چې له حمامه لوڅ راووتو او بهر یخې هوا ته به ودرېدو، نو یوازې همدا د سودا حس به راپاتې و. دې ته به په تمه وو چې سینه بغل کېږو که نه؟ یو څو ورځې وروسته زموږ دا سودا حیرانتیا شوه، ځکه یو هم یخنۍ نه وو وهلي.

د حیرانتیا ډېر نور شیان هم وو. په موږ کې راغلي ډاکټران لومړی پر دې پوه شول چې کتابونه ټول دروغ وایي! چېرته چې ویل شوي وو چې انسانان تر ټاکلو ساعتونو ډېر شوګیر نه شي کولای، دا خبره هم غلطه ده! ما فکر کاوه چې ګنې ډېر شیان نه شم کولای. له دې پرته نه شو ویده کېدای، له ده سره یو ځای ژوند نه شم کولای. په شویتز کې په لومړۍ شپه په څو منزله لرګینو چپرکټونو کې پرېوتو. یو کټ به دوه په دوه نیم متره کې و او نهه تنه به پکې پر تخته پرېوتل. نهو تنو به یوازې دوې کمپلې اغوستې. د ځایېدو لپاره به ټول په یوه څنګ یو په بل پسې جوخت پرېوتو. دې کار ځکه ګټه کوله چې هوا سړه وه. سره له دې چې د خوب خونې ته بوټان وړل منع وو؛ خو بیا به هم ځینو خلکو په خټو لړلي بوټان پټ ورسره راوړل او د بالښت پر ځای به یې سر ته کېښودل، ګنې سر به یې پر وچ لرګي یا پر خپل مړوند ایښوده. په هر صورت، خوب راغی او موږ یو څو ساعته له درد او خپګانه د خوب نړۍ ته پناه یووړه.

یو څو د حیرانتیا کیسې به نورې هم درته وکړم چې موږ څومره زغم درلود. موږ غاښونه نه شوای برس کولای او د کمزورو خوړو له امله د ویټامینونو له کمي سره هم مخ وو؛ خو بیا مو هم وریږ تر پخوا روغې وې. موږ یو کمیس شپږ میاشتې اغوست، تر دې چې ریښې ریښې به ولاړ. څو څو ورځې به مو مخ او لاسونه نه شوی مینځلای، ځکه پایپونه به یخ وهلي وو. خو بیا به مو هم په خاورو او خټو په ککړو لاسونو رامنځته شوي ټپونه نه خرابېدل (البته یخنۍ وهل جلا موضوع وه). بله ډله هغه خلک وو چې خوب یې ډېر بیداره و. د څنګ په کوټه کې به چې معمولي ټک شو، دوی به ویښ ناست وو؛ خو اوس به ملګري خرېدل او دوی به ورسره په څنګ کې ارام ویده وو.

که نن رانه د داستایوسکي د دې جملې په اړه پوښتنه وکړي چې ویل یې: «انسان داسې موجود دی چې له هر څه سره عادت کېږي.» زه به ووایم چې دا خبره رښتیا ده؛ خو دا پوښتنه مه کوه چې څنګه عادت کېږي. خو زموږ د ارواپوهنې څېړنې لا دې حد ته نه دي رسېدلې او نه موږ د زندان دې ته حد ته رسېدلي وو. موږ لا هم د خپل اروايي غبرګون په لومړي پړاو کې وو. د ځان وژنې فکر زموږ د ټولو په سرونو کې ګرځېدلی و، حتی که د لږ وخت لپاره هم و. دا له حالاتو زموږ د نهیلۍ، د مرګ د دایمي خطر او د خپلو ملګرو د مرګ لیدلو پایله وه. ما خپل ځینې شخصي نظریات درلودل.


**دوام لري...**

# رسول باوري

احسان الله کریمي

د افغانستان د علم، فرهنګ او مطبوعاتو د لویې کورنۍ ستره علمي هسته پوهاند استا رسول باوري د مرحوم اختر محمد خان زوی او د نیک محمد خان لمسی و، چې په ۱۳۳٦ لمریز کال کې یې د ارزګان ولایت په دهراود ولسوالۍ کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. استاد باوري لومړنۍ زده کړې د ارزګان ولایت سیدال خان لېسه کې پای ته ورسولې او لوړې زده کړې یې بیا د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو پوهنځي د تاریخ په څانګه کې او ماسترۍ یې په هالنډ پوهنتون کې په لرغونپوهنه کې واخیسته. پوهاند باوري د کابل پوهنتون په ګډون د خوست او له هیواد څخه بهر په بېلابېلو کورنیو او نړیوالو پوهنتونونو کې د لرغونپوهنې په برخه کې د استاد په توګه پاتې شوی دی. نوموړی د پوهنې وزارت د نصاب اداري د تاریخ برخې رییس، د شیخ زاهد پوهنتون رییس او د ولسمشر غني د تېرې دورې پر مهال د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مرستیال او سر پرست هم پاتې شوی دی او دغه راز پوهاند له کلونو راهیسې د افغانستان په ملي راډیو- ټلویزیون کې د فرهنګي میراثونو په نوم یوه خپرونه هم چلوله، چې په یاده خپرونه کې به یې د هیواد تاریخي ابدات معرفي او په مستنده توګه ثبتول. د تاریخي ابداتو په اړه د پوهاند باوري دا کړې خدمت به په کلونو کلونو راتلونکو نسلونو ته پاتې وي. استاد باوري خپل ډېر عمر د علمي څېړنو او په تېره بیا د تاریخ او لرغون پېژندنې په برخه کې څېړنیزو کارونو ته وقف کړی و او په دې برخه کې یې ډېر محصلین هم روزلي دي. رسول باوري د هیواد د فرهنګي او تاریخي میراثونو د خوندیتوب په برخه کې ارزښتناک ګامونه اوچت کړي دي، چې لیکلي اثار او طرحې یې ښې بیلګې ښودل کیږي. پوهاند رسول باوري د دې هېواد ستره هستي وه، د خبرو، منطق، استدلال او پوهې عظیم شخصیت و. نوموړي د دې هېواد د فرهنګ او لرغونتیا د پالنې او ساتنې لپاره ډېرې هڅې کړې دي. تل یې له ملي هویت او فرهنګ په نره په علمي دلایلو دفاع کړې ده او د دې وطن د راتلونکو نسلونو لپاره یې ګټور اثار په میراث پرې ایښي دي.

پوهاند باوري د استادۍ د سپېڅلي دندې ترڅنګ په لسګونو علمي، تاریخي او څېړنیز اثار لیکلي او ټولنې ته یې د استفادې لپاره وړاندې کړي دي. د استاد باوري په اړه داسې هم ویل شوي چې د هیواد د لرغونپوهنې په برخه کې تر سلو زیات مستند فلمونه، د ملي موزیم د چارو بیارغونه، د لرغونپوهنې کمېټې د چارو سمون، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فرهنګي چارو اغېزمن سمون او داسې نور فرهنګي کارونه یې د یادونې وړ دي. پوهاند رسول باوري د کډوالۍ پر مهال په سختو حالاتو کې هم د خپل ګران هیواد او ولسونو لپاره په علمي، فرهنګي او څېړنیزو چارو کې فعال رول لوبولی او ارزښتناکې قلمي هلې ځلې یې کړې دي. پوهاند باوري د افغانستان د تاریخ او لرغونپوهنې د ډګر یو پیاوړی عالم، لیکوال او څېړونکی، متواضع او د نرم خوی او نېکو اخلاقو خاوند و او دغه راز په کاري ډګر کې له همکارانو سره د یو لارښود همکار په توګه پاتې شوی دی. استاد باوري سولې ته د رسېدو، ټولنیز عدالت او د هیواد د پرمختګ لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي او په دې ویاړلې لار کې ښه ځلېدلی دی.



د لرغون پېژندنې دغه استاد په همدې برخه کې له شلو ډېر لیکلي تاریخي آثار او تر ۳۰۰ ډېرې مقالې په هیواد کې او له هیواده د باندې نشریو او ویب‌پاڼو کې خپرې کړې دي او دغه راز تر ۱۰۰ په ډېرو سمینارونو کې یې ګډون هم کړی دی.

استاد تر نیمه پېړۍ زیات عمر د ښوونې، لیکوالۍ او رهبرۍ له لارې د افغان ملت د پوهاوي او ملت جوړونې د روایتونو په ملاتړ کې تېر کړ. په شلمه پېړۍ کې د استاد کُهزاد، علامه حبیبي او علامه رشاد په څېر، یوویشتمه پېړۍ کې ښاغلی باوري د افغان هویت د تعریف او پیاوړتیا لپاره یوه ښه نمونه وه.

د فراه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس او د پوهاند باوري ملګری اورنګ مختار وایي، چې ښاغلي باوري په سختو حالاتو کې د افغانستان داسې ولایتونو ته د تاریخي ابداتو د پېژندنې په موخه سفرونه وکړل، چې چا یې فکر هم نه شوای کولای. نوموړی وایي چې هغه د لرغونپوهنې په برخه کې ډېرې هڅې کړې دي او دا نېکې به یې په ټول افغان ملت معلومه وي.

استاد باوري په ۱۳٦۵ کال کې د علامه طرظي د لیکوالۍ مېډال او په ۱۳۹۳ کال کې د غازي میر بچه خان مېډال تر لاسه کړ. پوهاند باوري د افغانستان یو نامتو لرغون پېژندونکی، لیکوال او څېړونکی و، چې د افغانستان په لرغون پېژندنه، تاریخ او فرهنګ کې مهم ځای لري. د ده له نامه پرته د افغانستان لرغون پېژندنه نیمګړې ده.

د افغانستان د علمو اکاډمۍ مشر ظاهر شکیب وایي، ډېری هغه ځایونه پوهاند باوري خلکو ته وروپیژندل چې هېچا یې په اړه معلومات نه درلودل.

د پوهاند رسول باوري مشر ورور محمد جان باوري وایي چې د استاد رسول باوري په ژوند کې لوی ارمان په هیواد کې تلپاتې سوله او په ځان بسیا افغانستان و.

د هیواد دې لویې هستۍ، مثبت فکر، ژمنې ککرۍ او ویاړلي شخصیت پوهاند محمد رسول باوري د ٦۹ کلونو په عمر له دې پاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

د افغانستان وتلي او فرهنګي شخصیتونه د هغه مړینه د هیواد لپاره لویه ضایعه ګڼي او وایي چې تشه به یې تر ډېره ډکه نشي.

د هغه ملګري وایي چې د رسول باوري رول د افغانستان د لرغونو اثارو په روښانه کولو کې خورا مهم و. د اطلاعاتو او کلتور وزارت سلاکار محمد فقیر میوند وایي، پوهاند باوري راتلونکو نسلونو ته دومره کار کړی، چې نوم به یې په پېړیو پېړیو ژوندی وي.

دغه راز د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت فرهنګي مرستیال هارون حکمي وایي، د پوهاند استاد محمد رسول باوري مړینه د ټول افغان ملت لپاره نه جبرانېدونکې ده او تر ډېره به د هغه ځای ډک نشي.

د پوهاند رسول باوري پر مړینه په لر او بر پښتنو کې فرهنګي، سیاسي او عامو وګړو خواشیني ښودلې ده.

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني ویلي، مرحوم باوري زرګونه محصلین وروزل او د هیواد د فرهنګ او لرغونپوهنې په برخه کې یې ډېر خدمتونه کړي. نوموړي د فرهنګي میراثونو او تاریخي ابداتو د خوندي کولو او ساتلو لپاره د لسګونو کتابونو او مقالو په لیکلو سره د ملي فرهنګ او هویت روښانه تعریف ملت ته په میراث پرېښود، چې مړینه یې لویه ضایعه ده.

پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د باوري صیب پر مړینه خواشیني ښودلې او ویلي یې دي، اروابښاد پوهاند محمد رسول باوري د هېواد علمي او اکاډمیک شخصیت و، چې د هېواد د بچیانو د ښوونې او روزنې ترڅنګ یې د لرغون پېژندنې په برخه کې ډېر علمي آثار او تحقیقي مقالې له ځانه په میراث پرېښې دي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ ویلي، پوهاند باوري د افغانستان یو نامتو لرغون پېژندونکی، لیکوال او ښه څېړونکی و چې کلونه کلونه یې د کابل پوهنتون د استادۍ د مقدسې دندې تر څنګ په لسګونو علمي- څېړنیز اثار او په سلګونو علمي- څېړنیزې مقالې د لرغون پېژندنې په برخه کې لیکلې دي، چې د افغانستان په لرغون پېژندنه، تاریخ او فرهنګ کې مهم ځای لري.

استاد رسول باوري د خپل وخت یو ستر عالم او تاریخ پوهه و، د هغه مړینه د لر او بر افغانانو لپاره نه جبرانېدونکې ضایعه ده. روح یې ښاد او جنت یې ځای شه!

اقتصاد

## د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۱,۳۰ |
| € | ۹۵,۲۰ |
| Rp. | ۵۰۲ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱,۸۰ |
| £ | ۱۰۹,۳۰ |

## بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

هميانی

# د فيبر لرونکو مېوو روغتيايي ګټې

ژباړه: حميدالله حميدي

روغتيايي څېړونکي وايي، هغه عمر خوړلي کسان چې له فيبر لرونکو مېوو ګټه اخلي، ډېر لږ د اوريو پر ناروغۍ اخته کېږي او غاښونه يې روغ وي.

دوی پر ډېرو کسانو څېړنه کړې ده، چې په ورځني ډول يې په هره غذايي وعده کې فيبر لرونکي خواړه او مېوې کارولې. د څېړنو پايلو ښودلې چې دغه چارې په عمر خوړلو کسانو کې ۳۰ سلنه د غاښونو د له منځه تلو او د اوريو د ناروغۍ مخه نيولې ده.

څېړونکی پلاوی وايي، د غاښونو د له منځه تلو لپاره تر ټولو غوره مېوې مڼې، الو او کېلې دي. دوی وايي د دې لپاره چې عمر خوړلي کسان روغ غاښونه ولري بايد په هره غذايي وعده کې لږ تر لږه ۲،۵ ګرامه فيبر واخلي. پر مېوو سربېره، ځينې سابه او حبوبات هم کولی شي د غاښونو د روغتيا لپاره ګټور تمام شي.

څېړونکي وايي ډېرې لږ مېوې او سابه دي چې د غاښونو د روغتيا لپاره ګټور دي چې له دې جملې پورته ذکر شوې مېوې ۱۴ سلنه او سابه ۵ سلنه کولی شي د غاښونو د خرابېدو مخه ونيسي.

د شمېرو پر اساس، په سلو کې ۱۰ امريکايي سپين ږيري کسان د اوريو د وينې کېدو پر ناروغۍ اخته دي. دغه شمېرې بيا په عمر خوړلو کسانو کې چې عمرونه يې له ۷۵ کلونو پورته وي، شل سلنې ته رسېږي.

تازه مېوې تر ټولو ګټور خواړه دي چې د بدن د اړتيا وړ ټول معدني مواد پکې شته. تازه مېوې په زياته کچه معدني مواد لکه کلسيم، پوتاشيم، اوسپنه او د بدن د اړتيا وړ نور ويټامينونه لري چې هر يو يې د بدن لپاره حياتي ارزښت لري.

هغه چې ناروغان دي، معلومه خبره ده چې د معدني موادو او يا هم د اړتيا وړ ويټامينونو له کمښت سره به مخ شوي وي، کله چې بيا ډاکټر ته مراجعه کوي، هغه ده چې د دغو خوړو سپارښتنه ورته کوي.




څېړونکي وايي، د غاښونو لوېدو د مخنيوي لپاره تر ټولو غوره مېوې مڼې، الو او کېلې دي.

دوی وايي، د دې لپاره چې عمر خوړلي کسان روغ غاښونه ولري، بايد په هره غذايي وعده کې لږ تر لږه ۲،۵ ګرامه فيبر واخلي. پر مېوو سربېره، ځينې سابه او حبوبات هم کولی شي د غاښونو د روغتيا لپاره ګټور تمام شي.

دغه راز د ورځې په اوږدو کې په منظم ډول د مېوې خوړل مو ستړيا له منځه وړي او د خوښۍ احساس درکوي، خو په موړ کې دود دا دی چې د ټولې ورځې مېوه په دوو وختونو کې يانې له ډوډۍ وروسته خورو.

د تغذيې د برخې مشهور متخصصين وايي، له ډوډۍ خوړلو وروسته د معدې ټول حجم اشغالېږي، معده ډکه او درنېږي، په دې وخت کې د مېوې خوړل د ګټې پر ځای ستونزې جوړوي، ښه دا ده چې له ډوډۍ يو يا دوه ساعته وروسته مېوه وخوړل شي.

دوی همدا راز وايي چې د ډېرى کسانو بدن له ډوډۍ خوړلو وروسته د خوږو خوړو ته اړتيا پيدا کوي، نو اړ دي چې مېوه وخوري، دوی ته سپارښتنه کېږي، د دې پر ځای چې هم يې پر معده فشار نه وي راوستی او هم يې په وينه کې د خوږو يا قندو مېزان ساتلی وي، ښه ده چې د همدې مېوو مربا وخوري.

ډاکټران وايي، د ورځې په اوږدو او بېلابېلو وختونو کې د مېوې خوړل د وينې فشار کنټرولوي، د فکري کار لپاره انرژي توليدوي او تر ټولو ښه ځانګړنه يې دا ده چې ستړيا له منځه وړي او د زياتې غوسې مخه نيسي.

په ټوله کې مېوه د بدن لپاره ګټوره ده، خو بېلې مېوې په بېلو وختونو کې خپلې ځانګړې ګټې هم لري، په مېوه کې د بدن د اړتيا ټول مواد په اصلي شکل پيدا کېږي.

د بېلګې په توګه، انار چې له خوړلو پرته يې ان په ليدلو د انسان زړه تازه کېږي او د خوښۍ احساس ورکوي. د افغانستان انار د نړۍ په کچه ښه نوم لري او د رنګ او خوند ساری يې نه ليدل کېږي.

انار د زړه ناروغيو، لوړ فشار، التهاب او ځينو سرطانونو، په تېره بيا د پروستات سرطان لپاره تر ټولو ښه نسخه ده. انار د فيبر اصلي سرچينه ګڼل کېږي او په زياته اندازه ويټامين اې، سي، اي، اوسپنه او انتي اکسيدان لري.

د انارو اوبه د پروستات له سرطان څخه مخنيوی کوي؛ د هغې څېړنې په پايله کې چې په ۲۰۰٦ کال کې تر سره شوه ثابته شوې، چې د ورځې يو ګېلاس د انارو اوبو څښل د پروستات پر سرطان د ډېرو اخته کسانو درملنه کړې ده او دغه ناروغي يې تر ټولو لږې کچې ته راټيټه کړې ده.

د دې برخې څېړونکي وايي چې دا څېړنه په برياليتوب سره تر سره شوه، خو ښه ده چې په دې برخه کې لا نورو څېړنو ته ادامه ورکړو.

په ۲۰۰۴ ميلادي کال کې پر هغو کسانو چې شريانونه يې تنګ شوي وو، يوه څېړنه تر سره شوې او ثابته کړې يې ده چې د ورځې يو ګيلاس د انارو اوبه کولای شي په رګونو کې ان د دريو کلونو مخکيني رسوب شوي کلسټرول له منځه يوسي او دغه راز په وينه کې د کلسټرول اندازه کنټرول کړي.

دا چې انار د هډوکو په پياوړتيا کې ځومره ونډه لري، په اړه يې په ۲۰۱۳ کال کې څېړنه شوې ده. د څېړنو پايلو ښودلې چې انار د هډوکو د پياوړتيا لپاره فوق العاده مهم دي او نه پرېږدي چې هډوکي پوده او وراسته شي. له دې ټولو سره سره انار د زړه د روغتيا لپاره تر ټولو ګټوره مېوه ده.

انار په خپل ترکيب کې غوړ او کالوري نه لري، خو په يوه زياته اندازه پوتاشيم او ويټامين سي لري. هغه انتي اکسيدان چې انار يې لري په ښه ډول په وينه کې د کلسټرول پر وړاندې مبارزه کوي. د انارو بله ښېګڼه دا ده چې په بدن کې مړه شوي او تخريب شوي سلولونه له سره رغوي.


د انتي اکسيدان دنده په وينه کې دا ده چې اضافي کلسټرول له منځه وړي، د ازادو راډيکالونو پر وړاندې مبارزه کوي، نه پرېږدي چې وينه لخته شي، کله چې وينه لخته نه شي په رګونو کې په اسانۍ جريان پيدا کوي. انار اسهال کابو کوي، وزن کموي، د وينې د لوړ فشار مخه نيسي او په ټوله کې يې خوراک انسان ته روحي سکون وربښي. هغه کسان چې په منظم ډول مېوه خوري، د نورو په پرتله يې عمر اوږد، پوست يې ښکلی او خوشاله اروا لري.

# بايډن: کرونا ويروس نور د امريکايي وګړو پر ژوند کنټرول نه لري

په داسې حال کې چې نړۍ لا هم د کرونا ويروس له ګواښ سره لاس او ګرېوان ده، خو د امريکا ولسمشر جوبايډن د دغه هېواد د خپلواکۍ ۲۴۵ م کال مراسمو ته په خبرو کې وويل چې کرونا ويروس نور د امريکايي وګړو پر ژوند کنټرول نه لري.

نوموړي په امريکا کې اقتصادي وضعيت او د ښوونځيو، کاروبارونو او نورو ادارو پرانيستلو ته په کتو، چې د کرونا ويروس له کبله تېرکال تړل شوي وو، وويل چې امريکا به بيا هېڅکله د تېرکال وضعيت ته ونه ګرځي. نوموړي د امريکايانو پر يووالي ټينګار وکړ او ويې ويل، امريکايان چې هرکله د يو بل تر څنګ درېدلي، د کاميابۍ حدود يې نامحدود وو.

دغو مراسمو ته له کروناويروس سره د مبارزې شاوخوا ۱۰۰۰ کارکوونکي، پوځي مشران او د کورنۍ غړي هم بلل شوي وو. بايډن له کروناويروس سره د مبارزې د کارکوونکو او خپلو پوځيانو د قربانۍ منننه وکړه. نوموړي وويل، چې د امريکا د حکومت او خلکو د هلو ځلو په پايله کې د جون د مياشتې په پرتله په امريکا کې د کرونا ويروس له کبله د مړو شمېر ۹۰ سلنه کم شوی او خلکو ته په ګډه د خپلواکۍ د ورځې نمانځلو زمينه برابره شوې ده.



دا په داسې حال کې ده چې د امريکا ولسمشر جوبايډن د مې په مياشت کې ځان ته دوې موخې وټاکلې چې يوه يې تر ۱۸ کلونو پورته ۷۰ سلنه امريکايانو ته د کرونا ضد لږ تر لږه يو ډوز واکسين ورکول او بل يې د خپلواکۍ تر ورځې پورې په امريکا کې ۱۶۰ ميليون خلکو ته د کرونا ضد دوه ډوزه واکسين کول وو، خو داسې ښکاري چې دا موخې پوره شوې نه دي، تر دې دمه ۱۵۷ ميليون امريکايانو د کرونا ضد دواړه ډوزه واکسينونه کړي چې د شاوخوا ۳۳۳ ميليون نفوس ۴۸ سلنه کېږي.

د بايډن دا څرګندونې داسې مهال دي، چې کرونا ويروس لا هم په نړۍ کې په چټکۍ سره د ودې په حال کې دی. د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر ۱۸۴ ميليونه او ۷۰٦ زره او ۳۱۵ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې مهاله درې ميليونه او ۹۹۵ زره او ۸۳۹ کسان مړه شوي او له ۱٦۹ ميليونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي. د يادو شمېرو له مخې، د امريکا متحده ايالتونه د دغه ويروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانيانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امريکا کې د دغه ويروس مثبتې پېښې ۳۴ ميليونه او ۵۹۲ زره او ۳۷۷ ته رسېدلي او ٦۲۱ زره او ۲۹۳ نور امريکايان ترې مړه شوي دي. دغه راز هند د ۳۰ ميليونه او شپږ سوه زره او ٦۴۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازيل د ۱۸ ميليونه او ۷٦۹ زره او ۸۰۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېيم، فرانسه د پنځه ميليونه او ۷۸٦ زره او ۲۰۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسيه د پنځه ميليونه او ٦۳۵ زره او ۲۹۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ويروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

مسير ورځپانه

مسوول مدير: اسدالله وحيدي

مرستيال: شفيق اميرزی

ايډېټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي

خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري

ډيزاين: حسيب الرحمن ساحل

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

چاپخونه: وايګل چاپ
0202512626 / 0782989696

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



سه‌شنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۱۵مه | د ۲۰۲۱ د جولای شپږمه | ۷۴۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| | کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لوړه | ۳۲ | ٤١ | ٤١ | ۳۲ | ٤٤ | ۳٦ |
| ټیټه | ۲۰ | ٢٤ | ۲۶ | ۲۳ | ۲٦ | ٢٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۱ | لمر ختل ۰۴:۴۶ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۵:۰۰ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵۵

## نړۍ



## بایډن: کرونا ویروس نور د امریکایي وګړو پر ژوند کنټرول نه لري ۵

## راپورونه: په فلیپین کې د غورځېدلي الوتکې د مړو شمېر ۵۰ کسانو ته ورسېد

د راپورونو له مخې، په فلیپین کې د پوځي الوتکې د غورځېدو په پېښه کې د مړو شویو کسانو شمېر ۵۰ تنو ته رسېدلی دی. د یاد هېواد چارواکي وایي چې په دې پېښه کې ۴۹ تنه نور ټپیان شوي هم دي.

د دوی په خبره، دا د فلیپین د پوځ په تاریخ کې یوه تر ټولو بده پېښه بلل شوې ده. دا په داسې حال کې ده چې د فلیپین سي ۱۳۰ الوتکه د یکشنبې په ورځ د ښکته کېدو په وخت کې له لیکې ووته، چپه شوه او اور یې واخیست. د دغه هېواد پوځ وایي، چې د ژغورنې عملې شاوخوا ۴۹ مړي را ایستلي دي.

بلخوا یو شمېر سرتېرو له الوتکې څخه ځانونه غورځولي وو چې ژوندي پاتې شي، خو له دې ډلې یې درې تنه مړه شوي او دوه نور ټپیان دي. چارواکي وایي چې د الوتکې له غورځېدو وروسته یو شمېر نور عام خلک هم ژوبل شوي وو.

د امریکا متحدو ایالتونو دا الوتکه فلیپین ته ورکړې وه ترڅو د یاغیانو پر ضد په جګړې کې تري کار واخلي. د فلیپین پوځ هلته د ابوسیاف له سخت دریځې ډلې سره پر جګړې بوخت دی. پوځ وایي چې دا سرتېري هم له سخت دریځو سره د جګړې لپاره د فلیپین د سولو ایالت ته انتقالېدل.

## تلګراف: بخشی از نیروهای ویژهٔ بریتانیا ممکن است در افغانستان بمانند



روزنامهٔ بریتانیایی «تلگراف» گزارش کرده‌است که دولت بریتانیا آماده‌است تا بخش کوچکی از نیروهای ویژهٔ این کشور را مشروط بر اوضاع افغانستان در این کشور، نگهدارد.

این در حالی‌است که به روز جمعه نیروهای امریکایی و ناتو، پایگاهٔ هوایی بگرام در ولایت پروان را که بزرگترین پایگاه نیروهای ائتلاف در کشور بود، را ترک کردند. در گزارش آمده‌است که بریتانیا در حال بررسی طرح باقی ماندن یک «گروه مشورتی» از سربازان ویژهٔ این کشور در افغانستان است.

در گزارش به نقل از یک سرباز پیشین «سرویس هوایی ویژه» (اس‌ای‌اس) بریتانیا که اخیراً در افغانستان مأموریت انجام داده، نگاشته شده است که گروه مشورتی نیروهای ویژهٔ بریتانیا برای نیروهای امنیتی افغان مشورت خواهند داد و با آنها به‌عنوان مشاور در میدان‌ها، اعزام خواهند شد.

گزارش می‌افزاید که زمان پایان این اعزام مشخص نشده و نیروهای ویژه تا زمانی که دولت (افغانستان) به آنها نیاز خواهند داشت، در آنجا می‌مانند. این روزنامه به نقل از یک منبع ارشد نظامی گزارش داده‌است که تا هنوز تصمیمی دربارهٔ اینکه تمامی ۷۵۰ سرباز باقی‌ماندهٔ بریتانیا در افغانستان از این کشور بیرون کشیده شوند و یا شماری از این نیروها با وجود حمله‌های طالبان بمانند، گرفته نشده‌است.

قرار است بوریس جانسون، نخست وزیر بریتانیا امروز دوشنبه در «نشست شورای امنیت» دربارهٔ بیرون ساختن و یا نگه داشتن سربازانش حرف بزند و اعلامیه‌یی را در این باره، صادر کند.

## راپورونه: د ایران د اټومي انرژۍ د تولید سټره بټۍ تر تخنیکي ستونزې وروسته بېرته فعاله شوې



د ایران د اټومي برېښنا د تولید یوازینۍ بټۍ شاوخوا دوې اونۍ وروسته له هغې چې په بېړني ډول بنده شوې وه، یو ځل بیا فعاله شوې ده.


د بوشهر د اټمي بټۍ مشر محمود جعفري ایسنا خبري اژانس ته ویلي، هغه تخنیکي عارضه چې له کبله یې بټۍ او د هغې زر مېګاواټه رېکټر غیر فعال شوي وو، لېرې شوې او ورسره د برېښنا تولید بیا پیل شوی دی. جعفري چې په عین حال کې د ایران د اټومي انرژۍ د ادارې مرستیال مشر هم دی، وویل چې د برېښنا جریان په دوامداره توګه وصل شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د جون په ۲۰مه د ایران د اټومي انرژۍ ادارې وویل چې د تخنیکي عارضې له کبله د بوشهر اټومي بټۍ غیر فعاله شوې او تېره اونۍ یې اعلان وکړ چې انجنیران د ویجاړ شوي رېکټر د ترمیم هڅه کوي.

وروسته له هغې چې د امریکا مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ له ایران سره له شوي اټومي تړون څخه امریکا و ایستله، پر دغه هېواد یې بندیزونه ولګول، ایران یې هم په غبرګون کې خپل اټومي فعالیتونه بېرته زیات کړل چې ورسره سم د یورانیمو په غني کولو کې هم د پام وړ ډېروالی راغلی.

## ژوند

## ګوګل د انګلیسي ژبې د زده کړې نوې اسانتیاوې رامنځته کوي




ګوګل کمپنۍ د داسې خدمتونو پر وړاندې کولو باندې فکر کوي چې د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوژۍ په کارولو سره د ګوګل لټون په مرسته له خلکو سره په مختلفو ژبو خبرې کول یا زده کول اسانه کوي. دې انفارمېشن د راپور پر بنسټ، دغه پروژه تېوولي نومول شوې ده او کېدای شي سږکال کاروونکو ته معرفي شي.

ویل کېږي چې په پیل کې به تېوولي یوازې په متن باندې کار کوي چې د ګوګل لټون برخه به وګرځي، خو ګوګل هڅه کوي چې دغه خدمتونه د ګوګل اسپسټنټ او یوټیوب برخه هم وګرځوي. راپور کې همدا راز راغلي چې د تېوولي مصنوعي ځیرکتیا خدمتونه له خلکو سره د ژبې زده کولو کې هم مرسته کوي او تر اوسه پورې یې ډېرې عادي تېروتنې کړې دي. له دې وړاندې ګوګل په هندوستان کې د بولو په نوم کاریال معرفي کړی و چې موخه یې ماشومانو ته د مختلفو ژبو زده کول وو، له هغې وروسته دغه کاریال د رېډ الانګ په نوم له ۱۸۰ څخه ډېرو هېوادونو کې کاروونکو ته وړاندې شو.

## دغه څښاک په نهره روغتیا ته زیان رسوي



ډېر خلک کله چې سهار وختي له خوبه راویښ شي، نو لومړی کار یې په نهاره ګېډه د کافي، چایو یا تازه جوسو څښل وي، خو د څېړنو له مخې ثابته شوې چې دغه ډول عادت د روغتیا لپاره زیانمن وي. روغتیايي کارپوهانو د یو راپور له مخې لاړښوونه کړې چې له دا ډول عادت څخه باید ډډه وشي، ځکه چې دغه کړنه په بدن کې د تېزابیت توازن خرابوي او ډېرې ستونزې پیدا کوي. په تروشو جوسو کې په ډېره اندازه ویټامین سي وي چې دفاعي سیستم پیاوړی کوي، خو که چېرته په نهاره ګېډه لږ هم وڅښل شي د معدې سوخت پیدا کوي او د زړه دررزا ډېروي. خو موږ نن د کولا مشروباتو په اړه یو څو خبرې لرو.

روغتیایي کارپوهان وایي چې په تشه ګېډه د کولا مشروباتو استعمال ښه نه وي، ځکه چې د ځیګر، تریخي او خېټې فعالیت ډېروي، غاښونو ته زیان رسوي او داسې ستونزې زیږوي چې د مړینې سبب کېږي.


## کوچنۍ او منځنۍ سوداګریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچنۍ او منځنۍ پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank